SHARIAT
شریعت
په اوونی کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
پنځم کال نه پنځوسمه گڼه پرله پسې (۳٤٦) شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال دجمادي الاول (۱۹)
د۱۳۷۹هـ ش کال د زمري دمیاشتی(۲۹) د ۲۰۰۰میلادي کال د اگست (۱۹)

هیئت تحریر و منسوبین هفته نامه شریعت :
هشتاد و یکمین سالگرد استرداد استقلال کشور
را حضور عالیقدر امیر المؤمنین ریاست
الوزراء، اعضاء محترم کابینه و کافه ملت
رنجدیده ء افغانستان تهنیت عرض میدارد.

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي (، عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، عدل) دیر نږدې دی تقوا (پرهیزگاري) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

د خپلواکی د بیرته اخستلو د(۸۱) کلیزی په مناسبت د عالیقدر امیر المؤمنین پیغام :

اسلامی امارت د یوه آزاد او مستقل هیواد لپاره هر ډول قربانی ته تیار دی

درنو هیوادوالو او زړورو مجاهدو اولسه! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته،
نن ورځ چې د زمري د میاشتی له ۲۸ نیټی سره سمون خوری زموږ غوندی او تولیدنه له نن څخه یو اتیا کاله مخکې د اسلامی جهاد او سربندنی په برکت زموږ د وياړلي او مؤمن اولس د ستری فتحی، حريت او استقلال یا د تازه کړی کله چې په همدغه ورځ ددې سر لوړی او آزاد هیواد مسلمان او پر دین مین اولس د اسلام د مقدس دین د ارزښتونو په رڼا کی د تودو ملی ولولو په لرلو سره د هغه وخت د ستر او جابر استعمار گر قوت په مقابل کی د جهاد اعلان وکړ که څه هم د دوی لاسونه خالی، امکانات ضعیف، نظامی وسایل بیخی کم خو ایمان یې قوی وو دوی د دوومیاشتنو په دننه کی د خدای «ج» په فضل او نصرت سره وکولای شول چې په هغه وخت کی په اصطلاح د لری ستر طاقت چې د نړیوال جنگ د فتحی غرور یی لا هم په مازغو کی وو له سختی ماتی سره مخامخ کړی او د خپل اسلامی او آزاد هیواد استقلال او حریت تر لاسه کړی. (ځلورم مخ)

(ځلورم مخ)

د انگریزی استعمار په وړاندی زموږ د غیور ولس د بریالیتوب بواځنی لامل د لوی څښتن نصرت او د هغوی ټینگ عزم وو

د ریاست الوزراء اقتصادی مرستیال محترم مولوی عبدالکبیر

آزادی او خپلواکی د شهیدانو دوینو محصول دی باید د هغوی وینی هیری نکړو

د ریاست الوزراء اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن

ازادی په شرعی نصوصو کی ځانگړی ارزښت لری

محترم قاضی القضات مولوی نورمحمد «ثاقب»

شریعت : د هیواد د خپلواکی د بیرته اخیستلو د یو اتیایمی کالیزی په مناسبت د انترکانتیننتال هوټل د کنفرانسونو په تالار کی یو پرتمینه غونډه وشوه . په دې غـونـډه کی د ٤ مخ

٤ مخ

از طرف قطعات اردوي اسلامي :

هشتاد و یکمین سالگرد استقلال کشور تجلیل گردید

کابل - باختر :
هشتاد و یکمین سالگرد استرداد استقلال کشور از امپراتوری بریتانیا قبل از ظهر دیروز با مراسم رژه قطعات و جزوتام هاي مختلف اردوي اسلامي در جاده مقابل ارگ تجلیل گردید.
در مراسم علاوه از اعضاي کابینه مسوولین بلند رتبه امارت اسلامي افغانستان ، ژورنالستان داخلي و خارجي اعضاي کوردیپلوماتیک مقیم کابل ، اعضاي موسسات غیر حکومتي در کابل علماي کرام و هزاران تن از شهریان کابل اشتراك ورزیده بودند ، محترم ملا محمد رباني رئیس الوزرا در حالیکه معاونین رئیس الوزرا و وزیر دفاع ملي با وي همراه بودند و موتر هاي حامل شان توسط دسته از موتر سایکل سواران بدرقه میشد وارد ساحه مراسم گردیده بعد از آنکه قطعه تشریفات گارد ملي را معاینه و مراتب تبریکات شانرا بمناسبت ۸۱ مین سالگرد استرداد استقلال افغانستان بدرانشد... در جایگاه خاصي قرار

ص ٤

استرداد استقلال کشور در خاطرات چند تن ازمسنین شهر کابل :

کابل براي اولین بار در زمان امان الله خان بمباردمان شد

محترم حاجي عبدالمحمد مرد ۹۸ ساله مسکونه جنگلك کابل

در اولین جشن استقلال افغانستان آرد سیر ۲ روپیه کابلي بود

محترم حاجي گل علم مرد ۱۰۲ ساله مسکونه دهمزنگ .کابل

شریعت : هشتادو یکمین سالروز استرداد استقلال کشور دیروز طی جشن پر شکوهي در شهر کابل تجلیل گردید .
خبرنگار ما با استفاده از فرصت و گرامیداشت از این فرخنده روز گزارشي را به عنوان تاریخ زنده از زبان تن چند از موسفیدان و سالمندان شهر که هر یك آنها از اولین جشن استرداد استقلال کشور دیدني ها و گفتني هاي دارند ترتیب داده است که خوانش آن براي شما عزیز دوستان خالي از دلچسپي نخواهد بود.
در آغاز محترم حاجي عبدالمحمد باشنده جنگلك کابل در حالیکه خود را

ص ٤

بمناسبت سالگرد استقلال کشور :

از طرف ورزشکاران کمیته ملي المپیك نمایش هاي ورزشي صورت گرفت

کابل - باختر :
طلبه هاي مدارس شهر کابل و ورزشکاران موسسات و ادارات امارتي کلب هاي آزاد ریاست ملي المپیك و موسسات تعلیمي وتحصیلي نظامي بعد از ظهر دیروز با اجراي رژه و نمایشات جالب ورزشي در ستدیوم ورزشي کابل بیست و هشتم اسد سالگرد استقلال کشور را جشن گرفتند.
طلبه هاي مدارس شهر کابل که با لباس هاي ملي ملبس بودند و گلهاي لبخند و شادماني در لبهاي آنان شگوفه نمرده بود از برابر لوژ که مسوولین امارتي قرار داشتند با نظم و دسپلین خاص گذشتند و مراتب احترام را به مسوولین امارتي ادا نمودند.
همچنان ورزشکاران ریاست المپیك وزارتهاي دفاع امور داخله معارف ریاست عمومي استخبارات، د آریانا افغان هوایي شرکت ، ریاست عمومي جمعیت عالي

ص ٤

د «ستور» ښکلی ماڼۍ چې له پیرنگی سکیلاک څخه د هیواد د خپلواکی د بیرته اخیستلو اعلان پکی تر سره شوی دی. ټکنالوجي برخه

دلوی خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د خپلواکي اعلان او د ملي وحدت زور!

لکه چې هر قوم د خپل تاریخ په اوږدو کی د غم او ښادی بیلا بیلی ورځی لری او تر ډیرو پیړیو یی یادونه کوی موږ افغانان هم د خپل تاریخ په پوړیو کی ښې د برم او وياړ ورځی لرو چې یوه یې همدا یو اتیا کلنه لرغونی او نیکمرغه ورځ ده چې د کال ۱۲۹۸ هـ د زمری د میاشتی اته ویشتمه نېټه وه دا ورځ د هیرېدو څکه نه ده چې یو ځو زموږ هیواد د پردیو له اسارت او غلامی خلاص او په خپلو پریکړو کی آزاد او خپلواک شو او له بلی خوا په دې وخت کی د بیلا بیلو

۲ مخ

راځئ چې د هیواد د خپلواکی یو اتیایمه کلیزه د هر ډول پردی مداخلت د بندولو په تعهد سره ونمانځو

د کال (۱۷٤۷م نه تر ۱۹۱۹م) پوری دهیواد مهمی پیښي

فاروق

*احمد شاه بابا د ۱۷٤۷ م کال په اکتوبر کی د بېلا بېلو قومونو د سلا مشوری په نتیجه ورغ د کندهار د شیر سرخ په مزار کی د صابر شاه ملنګ په وراندیز او د ناستو مشرانو په تایید او فیصله د ټول ولس او

وخت کامران چی د تیمور شاه زوی اود احمد شاه بابا لمسی و پر هرات حاکم و، ایرانیانو لس میاشتی هرات کلابند کړی او د تږیو د سختو ډزو لاندی یی نیولی و، ډیر وګړی په شهادت ورسیدل، د خلکو ژوند ژواک هر څه

په کال ۱۸٤۱ م کی د انګریزانو پر خلاف عام پاڅون وشو او انګریز پوځ په تیښته له هیواده ووت دا د افغان - انګلیس رومبی جګړه وه خو په کال ۱۸۷۸ م دوهم ځل انګریزانو تیری وکړ او نږدی شپیته زره پوځ یی افغانستان ته راولیږی چی د سختو جګړو او کلک مقاومت سره مخامخ او په کال ۱۸۸۰ م کی بیرته په تیښته ووتل.

هیواد مشر وټاکل شو، او له هماغی ورځی را وروسته یی د قومونو تر منځ د ملی وحدت لپاره هلی ځلی پیل او هیواد یی په افغانستان ونوماوه د هیواد ملی نښان چی د غنمو دوه وږی او دوه توری پکی راتاو شوی وی هم له هماغه ورځی چی صابر شاه ملنګ د احمد شاه بابا په سر وتومبل، رواج شوی او تر ننه پوری د افغانانو یو منل شوی قومی نښان دی.

*د احمد شاه بابا په زمانه کی د افغانی امپراطوری بریدونه په لویدیځ کی تر مشهد، نیشاپور او اصفهان او په ختیځ کی د ډیلی په شمول تر ټول هندوستان پوری رسیدلی و.

*د احمد شاه بابا نه وروسته په رومبی ځل د روسانو په ملتیا د ایرانیانو له خوا پر هرات برغلونه پیل شول چی تر ټولو مهم یی د کال ۱۸۳۸ م محاصره وه او دا

تباه شول خو ایرانیان هم تش لاس نامراده بیرته ستانه او په زرګونو مړی یی پاتی شول.

*د افغان شهزادګانو د اختلاف او خپل منځی دښمنیو په نتیجه کی زمونږ لویه امپراطوری له منځه ولاړه او هیواد د ایرانیانو، روسانو او انګریزانو د برغلونو او سیالیو ډګر وګرځید، چی په رومبی ځل کال ۱۸۳۹ م کی انګریزی لښکر د شاه شجاع د ملګرتیا په نامه د چمن له لاری په کندهار ننوت او کابل ته را ورسید، ددوی ټول شمیر ۵٤۱۵۰ تنو ته رسیدی چی ټنه روزل شوی او په عصری وسلو سمبال و.

*په کال ۱۸٤۱ م کی د انګریزانو پر خلاف عام پاڅون وشو او انګریز پوځ په تیښته له هیواده ووت دا د افغان - انګلیس رومبی جګړه وه خو په کال ۱۸۷۸ م دوهم ځل انګریزانو تیری وکړ او نږدی شپیته زره پوځ یی افغانستان ته راولیږی چی د سختو جګړو او کلک مقاومت سره مخامخ او په کال ۱۸۸۰ م کی بیرته په تیښته ووتل.

*د میوند وبارمنه سوبه چی غازی محمد ایوب خان او پیغله ملاله پکی د یادولو وړ دی هم د افغان - انګلیس د جګړی مهمه پیښه ده چی د ۱۸۸۰ م کال د جولای په ۲۷ مه نیټه منځ ته راغلی ده او د انګلیس د دولس زرو عسکرو نه ایله ۲۵ کسان ژوندی وتښتیدل.

*په وروستی ځل د کابل د عیدګاه په جومات کی د امان الله خان له خوا د هیواد د خپلواکی اعلان وشو او دا د کال ۱۲۹۸ هـ ش د زمری د میاشتی اته ویشتمه نیټه وه، چی انګریزان یی راوپارول او افغانان هم مجبور شول انګریزانو ته خپل زور وروښیی نو د هیواد ختیځ، جنوب او د کندهار حوزی ته د غازیانو

د میوند وبارمنه سوبه چی غازی محمد ایوب خان او پیغله ملاله پکی د یادولو وړ دی هم د افغان - انګلیس د جګړی مهمه پیښه ده چی د ۱۸۸۰ م کال د جولای په ۲۷ مه نیټه منځ ته راغلی ده او د انګلیس د دولس زرو عسکرو نه ایله ۲۵ کسان ژوندی وتښتیدل.

ډلی ولیږل شوی او د سختو جګړو نه وروسته انګریزان قانع شول، اوربندی وکړه او د افغانستان خپلواکی یی په رسمیت وپیژندله.

*د افغان - انګلیس د جګړو په دوران کی د انګریزانو مشهور قوماندانان، کیوناری، مکناتن او برنس ووژل شول او یو اروپایی

مؤرخ د انګریزانو د مالی او بشری تاوان په هکله لیکی: د لار د اکلند د غلط سیاست له کبله انګریزانو ته پنځلس میلیونه پونډه تاوان واوښته او د شلو زرو نه زیات انګلیسان ووژل شول.

*د ګندمک تړون د امیر محمد یعقوب خان او انګریزانو تر منځ په ۱۸۷۹ م د می ۲۶ نیټه لاسلیک شو او تر مخه یی: کورمه، لنډی کوتل، خیبر دره، سیالکوټ او پشنګ انګریزانو ته ورکړی شول او افغانستان په بهرنی پالیسی کی له خپلواکی محروم شو.

*د ډیورنډ تړون د امیر عبدالرحمن خان او انګریزانو تر منځ په ۱۲ نومبر ۱۸۹۳ نیټه لاسلیک شو او تر مخه یی د افغانستان او انګریزانو تر منځ په رسمی ډول بریدونه وټاکل شول، د سرحد دا نقشه یو انګریز «ډیورنډ» جوړه کړی وه.

*پنجده چی د هرات شمال خوا ته د مرغاب د سیند په غاړه پرته ده، د روسانو له خوا

په ۱۸۸۵ م نیټه ونیول شوه، هلته تقریباً څلور زره افغانی عسکر د شمس الدین خان او جنرال غوث الدین خان په مشری ښه په میړانه خو غیر منظم وجنګیدل، له دی جملی نه د کرنیل شاه مراد خان په مشر توب دوه نیم زره عسکر په جګړه کی شهیدان او پنجده د روسانو په لاس کېوته په دی جګړه د روسانو زر ته عسکر ووژل شول.

سور ګوره په لوخو کی

ملا محمد اصغر عاکف

په رښتیا چی موږ افغانان له خپله زوره څومره نا خبره یو. پاکه ربه توبه می دی وی توبه توبه شکر دی خدایه تاله موږ سره څومره ښیګڼی کړی دی اداسی می په زړه دی لګه دا اوس ساعت چی له کابل څخه مو د انګریزانو لښکر پسی واخیست تر جلال آباد پوری مو وزغلاوه موږ تر شا او دوی تر مخ آخر هلته یوه سیمه وه داسی ښه نه م یی وه دلته یو کندک په لوخو کی را څخه غلی شول موږ خو سم ښهی کړل چی دلته دی مګر دوی فکر کاوه چی ګنی غازیانو نه یو لیدلی د مه مو ورته جوړه کړه څکه چی هغوی هسی هم د مقابلی څواک نه درلود یواځی غالونه یی ایستل دا مهال مو چی کاته یو نا یولکی ګوره له لوخو راووت او په رغښتو رغښتو یی زمونږ خوا ته څان راورساوه مخ یی په خاورو سپیره او شنی سترګی یی له ژړا ډکی راته ونیولی په زاریو یی پیل وکړ که څه هم موږ یی په خبرو نه پوهیدو مګر دومره مو سر پری خلاص شو چی هلته د خلکو مالونه او غواوی څروتي. هغه ته به یی لاس ونیو او دا مانا به مو ورځنی اخیسته چی ما مه وژنی ما ژوندي بوزي زه به تاسو ته غواوي څروم. یوه غازی چی د ګوره ظلم په خپلو سترګو لیدلی و نو ورته وبی ویل هوکی ژوندی دی پریږدو اول خو تاسی انګریزان په بل وطن تیری کوی خلک او ماشومان

وژنی خو چی کله بیا د غازیانو په لاس ورشی نو بیا وایی چی مه می وژنی غواوی به درته څروم نه می شی غولولای چکمکی بیی ورته سیخ کړ تبک یی واړاوه نورو ګوره و چی دا حال ولیده نو په وارخطایی سره له پټونی راووتل او د سرو بیزوګانو په شان یو خوا بل خوا زغلیده خو یو هم ژوندی را څخه پاتی نه شول.

څه سر په مو خووم، ما ډیری غزاوی کړی دی په کټر او اسمار کی می غزا کړی په ټل کی می غزا کړی او د ډیرو ګوره وسیندی می یوری کړی دی او هر ځل به می بهادری ګټله ما غوندی میره غازی په دغه سیمه کی نه وه که څه هم له ما څخه زیات تکړه میړونه وو چی د شهادت جامونه یی وڅښل او نن تر تورو خاورو لاندی دی دا یو زه د خدای «ج» غریب بنده د هغی زمانی د ریاتی یم مګر په دی خوښ یم چی ښه میړانه مو درته کړی ده وطن مو له برغلګرو انګریزانو او سرو ګوره وڅخه درته ازاد کړ موږ خو به په هغه وخت کی

بی خوشالی کولی ښه اتیونه به مو کول څکه چی د ازادی ستر نعمت مو ګټلی وو اوس نو پر تاوسو دی چی د استقلال او ازادی غازیان څرنګه ساتی؟

یو سل او شل کلن علی محمد اکا چی له نن څخه څلیریشت کاله مخکی ده په کور کی موږ راغږاوه په داسی حال کی چی یوه شیبه به یی د استقلال او ازادی د شهیدانو د خاطرو یادولو په مهال سترګی له اوښکو راډکی شوی او بله شیبه به یی د خوشالی احساس کاوه او شکر به یی ایست چی پاکه خدایه! تاله موږ سره څومره ښی ګڼی وکړی چی سره ګوره دی راته سلامی کړل او د ازادی ستر نعمت دی را باندی وپیرزاوه او کله به یی بیا په توکه کی برېتونه راته تاوول چی څرنګه مو سره ګوره او برغل کوونکی انګریزان درته پسی راخیستل او وطن مو درته ازاد کړ نو موږ چی دده د لمسانو او کړوسیانو پر ځای وو کله به مو ژړا ورسره پدرګه کوله او کله خندا نور مو یواځی غوږ ورته نیولی و څکه چی موږ تر هاغه

مهاله هیڅ نه وکړی، موږ به نور څه ورته ویل پرته له دی چی د وطن د استقلال او ازادی شازلمیانو ته خپلی ښی پیرزوینی وراندی کړو او ددغی لاری اتلو شهیدانو ته د دعا او جنت فردوس غوښتنه وکړو بله لاره نه وه مګر کاشکی خدای «ج» ښیلی غازی علی محمد نیکه تر اوسه راته ژوندی وای او په خپلو سترګو یی لیدلی وای چی اتلو افغانانو دخپلو اتلو نیکونو لاره څرنګه ونیوله او د درستی نړی یو ستر زواک شوروی اتحاد یی څرنګه سره تار په تار کړ اویه خپلو بی ساریو قربانیو یی دغه برغل کوونکی څرنګه په ګونډو او له شرموونکی ماتی سره مخامخ کړ کاشکی لا ژوندی وای چی له څان سره یی د خپلو سترګو لیدلی دغه حقیقت او خوښی د استقلال او ازادی میلو غازیانو او شهیدانو د ارواحانو پند غالی ته وری وای څومره به ښه وه څکه چی لا به یی ډاډ حاصل شوی و چی د اتلانو او شهیدانو زامن خامخا اتلان او شهیدان وی.

مبین بیجا رقیبا سوی این خـــاك

که آهویش ز شیران باجـگیر است

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندی

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دیوي ګڼی بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان ټیلفون : ۲۱۳۸۱ - توزیع او شکایات : ٦۲۸٥۹

جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتی مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

پرګنو له خوا د پوره پیوالی او وحدت مظاهره وشوه چی دا د بریتانوی ښکیلاک لپاره یو غوځ او تریخ ځواب وګرځید په همدی ورځ د کابل په یوه لوی جومات کی د افغان مجاهد ولس په بشپړ ملاتړ د امیر امان الله خان له خواد خپلواکی اعلان وشو او ټول مسلمان ملت یی د حصول لپاره هر ډول سرښندنی ته چمتو والی وښود. ددی مقصد لپاره لا ډیر کلونه مخکی خلکو ښی ډیری قربانی ورکړی وی، کړاوونه یی ګاللی و او نږدی پنځوس زره پرنګی لښکر یی په ډیره میړانه له منځه وړی و او په دی ډول یی په هماغه وخت کی یوه لویه اروپایی امپراتوری د تل لپاره په اسیا کی له سختی ماتی سره مخامخ کړی وه.

په هغه وخت کی د افغانانو تر منځ د پردي لمسوني غرضی لاسونه غوڅ شوی وو او ټولو په یوه غږ او پوره یووالی انګریزی امپراتوری ته د «نه» ځواب ورکړ او د دښمن زړه ومنله چی نور نو په دی ولس کی د پښی اینښودلو ځای نه لری هو په رښتیا چی انګریزان ښه په کلکه پوه شول خو څه موده وروسته زمونږ یو بل دښمن په لمسونی او پارونی پیل وکړ، تر څو چی زمونږ د یو شمیر غدارو او وطن پلورونکو څیرو په ملاتړ یی وکولای شول زمونږ د کور په وراتولو پسی له مسکو نه د سرو لښکرو کتارونه راولی او هیواد مو چی نوی په پښو دریدلی وو یو ځل بیا په کنډوالو بدل کړی خو مسلمان او میړنی افغان ولس د ځوارلسو کلو په موده کی روسان او د هغوی نوکران ټول تباه برباد کړل او د کمونیستی بلاک او شوروی اتحاد هغه یوځی او افسانوی طاقت یی دړی وړی کړ چی آن لا ډیری لری نږی یی له وېری د آرام ساه نه شوه اخیستلای او په دی ډول یی په خپل غیرت او بی مثاله قربانی د ختیځ او لویدیځ هغه جګړه پای ته ورسوله چی له ډیرو کلو راهیسی پکی ستری ستومانه وو د ماتی دغه دوه کیسی ټولو نړی والو ولیدی او هر څوک په دی باور شول چی د جګړی په ډګر کی هیڅوک هم د افغانانو سره سیالی نه شی کولای نو له همدی کبله اوس زمونږ دښمنان شیطانت او لمسونی کوی او بیا د خپلو ګوډاګیانو په ذریعه اختلاف او ګډوډی پیدا کوی او نه پریږدی چی افغان مسلمان ملت په یوه مرکز راټول او یو داسی قوت جوړ کړی چی ټول پردی لاسونه غوڅ او خپل تصمیم په خپله ونیسی،

هوکی! د تاریخی پیښو یادونه د پند او عبرت لپاره وی نو راځی وګورو چی مونږ د خپلی ماضی نه څومره درس او تجربه اخیستی د هغو په رڼا کی مو څنګه تګلاره جوړه کړی او په کومه اندازه مو د خپل ملی وحدت او یوی ملی تولنی لپاره کار کړی؟

په تیره یوه پیړی کی د روسی او پرنګی ښکیلاک سره د غورځو پرځو برغل او څغلولو نه یو لوی درس دا هم اخیستلای شو چی افغانان پردیو ته غاړه نه ږدی، د بل چا واکداری نه منی او هغو افغانانو ته هم په ډیره بده سترګه ګوری چی د پردیو ملاتړ و په زور څان مطرح کول غواړی بس همدغه زمونږ د تاریخ یو لوی درس او عبرت دی،

نو راځی ددغی بختوری ورځی په یادښت سره یو ځل بیا د خپلو شهیدو پلرو او نیکونو د ارواوو سره لوز او تړون وکړو چی د پردیو کفری ځواکونو مځا ځیاو غلامی به نه کوو، په خپل هیواد کی به د هغوی ګوډاګی نه پریږدو او تل به دا هڅه کوو چی خپل کور، په خپله جوړ کړو د خلکو له ارتیاو څان خلاص او له سیالانو سره څان سیال کړو د شهیدانو روح دی ښاد خپلواکی دی دائمه او ملی وحدت دی لا پسی ټینګ وی.

استرداد استقلال رویداد عظیم در تاریخ کشور عزیز مان

غلام سخی اثمر

سخن از جهاد و مبارزات بی نظیر مردم افغانستان است، یاد از قهرمانیهاي عظیمی است کـه اوراق زرین تاریخ را تشکیل میدهد، سخن از پایمردي ها و قربانیهاي بزرگي است که به اثر آن پایه هاي استعمار انگلیس را با در هم شکستن آن در این خطه مردخیز در آسیا و افریقا به لرزه در آورد افغان هاي مجاهد و وطندوست چنان ضرباتي بر پیکر استیلا گران وارد آوردند که پوزه آنرا بخاك مالیدند.

این نبرد عظیم براي استرداد استقلال کشور هنگامي آغاز گردید که استعمار آشکار و نهان انگلیسها در وجود دست نشانده گان آنها بر گروه هاي هموطنان مجاهد و مسلمان ما سخت سنگیني میکرد.

فرزندان کشور عزیز و آزاده ما، این حصار غلبه نا پذیر با دستان خالي ولي سینه هاي مملو از عشق به اسلام و احترام به عنعنات ملی شان چون مشت واحدي عمل کردند و تاریخ مبارزات قهرمانانه، شانرا در سنگر هاي داغ مبارزه آزادیخواهانه با خونهاي شان نوشتند، آري مردم مسلمان افغانستان بر این مجاهدات استعمار شکن مي بالند و روز ۲۸ اسد را که روز استرداد استقلال کشور است گرامي میدارند.

جنگ سوم افغان و انگلیس که بیشتر به جنگ استقلال افغانستان شهرت دارد هنگامي صورت گرفت که انگلیس ها داراي چنان قدرت نظامي بودندکه جهان را به لرزه انداخته بود.

ولي افغانهاي دلیر، غیور و سرسپرده با تفنگ هاي دهن پر، شمشیر ها ... و تیر ها عازم جبهات جنگ شدند مورخي از دیار دیگر بر برخي از خصوصیات این جنگ چنین روشني مي اندازد: ایمان بخداوند «ج» احساسات پر شور ملي و میهني و تهیه لوازم حربي بصورت طبیعي و ساده این بود رمز پیروزي افغانها ... وي قدري پیشتر مي رود و به وحدت ملي افغانها اشاره میکند: مجاهدین و غازیان افغان از دیار و تباري که بودند وحدت و برادري شانرا چون مردمك چشم شان گرامي میداشتند.

این جنگ در سه جبهه (شرق، جنوب و جبهه کندهار) ادامه پیدا کرد و این هنگامي بود که انگلیسها بر نیم قاره، هند تسلط داشته و به گفته مؤرخي اگر از خطوط جبهات تا عمق نیم قاره در نظر گرفته شود تا قشله هاي نظامي شان انگیسها تقریباً سي فرقه، منظم را آماده جنگ ساخته بودند.

در حالیکه باز هم به گفته یك مؤرخي که هیچگونه تمایلات و جانبداري منفي شاید نداشت قواي منظم افغانها را در هر جبهه از دو فرقه منظم زیاد نمیداند.

با صراحت میتوان ابراز داشت که جهاد و بپاخیزي و قیامهاي ملي مردم افغانستان بود که انگلیسها را به شکست مواجه ساخت پلان دقیق حربي و سوق و اداره منظم جنگ وجود نداشت نخست از همه جنگ در جبهه شرق در گرفت و بعد در جبهه پکتیا در جبهه کندهار هنوزجنگ منظم میان طرفین بجز از تعرض انگلیسها بر قلعه، جدید سپین بولدك که آنرا تورن محمد یوسف خان (تولي مشر محمد یوسف خان) با سه صد تن دفاع میکرد صورت نگرفت.

واین هم فشرده از این مقاومت بي نظیر در سپین بولدك:

نزدیك به سه غند انگیسها بعد ازنیمه شب ۲۶ مي ۱۹۱۹ براین قلعه تعرض کردند اگر بطور تخمین محاسبه کنیم و هر غند دشمن را سه کندك با قطعات کمکي آن به مقایسه بگیریم و باز به همین تخمین هر کندك انگلیس را با جزوتامهاي دیگر آن هزار نفر شمار کنیم و افراد سه غند انگلیسها را با جزو تامهاي حمایه، آن ۱۲ کندك بگیریم میان ۹-۱۰ هزار نفر از نیرو هاي انگلیس بر قلعه جدید آن هم در شب حمله ور شدند. مقاومت افغانها بحدي زیاد بود که تا آخرین رمق جنگیدند و حماسه ها افریدند شاد باد روح آن مجاهدان و غازیان.

در جبهه پکتیا توازن نیرو هاي طوري بود که تمام ساحه، پکتیا به مجمر آتشیني زیر پاي انگلیسها مبدل گردید و در تمام سه محاذ «پیوار» تل این جبه ضربات مرگباري بر قواي انگلیس وارد آمد.

قوماندان قواي جبهه کندهار قبل از آنکه وارد محاربه گردد متارکه جنگ اعلان شده بود و در جبهه مشرقي قوماندان عمومي آن به علت برداشتن زخمي در پایش به کابل عزیمت کرد و قومانده، نیرو ها را جنرال محمد عمر خان ناصري به عهده گرفت و با چنان رشادت جنگید که انگلیسها نه توانستند از «ډکه» پیش بیایند و این هم در حالیکه قواي انگلیسها چندین مراتب بیشتر از قوتهاي افغاني بود این جنگها در جبهات فرعي مانند چترال و غیره هم دوام پیدا کرد.

در تمام جبهات رهبران و علماي دین در صف اول تبلیغ و مبارزه علیه انگلیسها قرار داشتند و این امر قوت قلب نیرو هاي افغاني را تشکیل میداد، این رهبران و روحانیون با وعظ هاي شان مردم بپا ایستاده، مجاهد و غازي را به غزا تشویق میکردند. از جانب دیگر مردسان بي سلاح، قسماً سالخورده و زنان با حفظ ستر و حجاب موارد لوژستیکي، مخصوصاً آبرا به غازیان میرسانیدند حکایه هاي زیادي از این بخش معنوي و رشادتهاي زمان افغان وجود دارد که مایه سربلندي ما است.

این جنگ دو ماه طول کشید (ماه هاي مي و جون ۱۹۱۹) و در ختم آن هنگامیکه انگلیسها استقلال افغانستان را زیر فشار زیاد پذیرفتند جنگ هم به پایان رسید و بدینصورت استرداد استقلال افغانستان میسر گردید.

متارکه در سوم جون صورت گرفت و بعد از آن بمرور زمان بعد از تبادله، یك سلسله مکاتیب میان کابل و مقامات هند برتانوي معاهده صلح راولپندي در ۸ اگست و بعداً مذاکرات منصوري میان طرفین صورت گرفت.

ولي آنطوریکه اوراق تاریخ شهادت میدهد، ناشي از بي تجربه گي و عدم پختگي سیاسي دربار کابل آنچه را که افغانها درمیدانهاي نبرد بدست آورده بودند در میز هاي مذاکرات سیاسي بهمان اندازه دست آوردي نداشتند.

و در پایان کلام، باید یك بار دیگر ابراز داشت که نتیجه، این جنگ میان آزادي و استعمار، جنگ میان زور گویان و سر نیزه داران اروپایي و افغانها در واقع چنان افتخاري است که هیچ فرد افغان از آن محروم نیست.



د تنگی غارو مهیبه منظره چی هره برخه او کانی ئی د شین سترگو تښتیدلو پرنگیانو په وینو تک سره شوی دی
عکاسی یوسف

د خپلواکۍ په جګړه کې د طرفينو د قواوو مقايسه

ترپوال

کله چی زموږ پر گران هیواد کی د استقلال د بیرته اخستلو په مقصد د غزا اعلان وشو زموږ مومن، په هیواد او ملي نواميسو مین، غیرتمن، باتوراو میړنی ولس په اسلامی جذباتو، د وطندوستی او ازاد منشی په تودو ولولو د هغه بدرگه وکړه او په هر اړخیز ډول یې د خپل ملاتړ او هر کلی احساسات څرگند کړل چی د نړی په ولسونو کی د هغه نظیر ډیر کم لیدل کیږی.

د افغان او انگلیس په دغه سرنوشت سازه معرکه کی د محاذونو او د هغوی په جنگی واقعاتو او نتیجو دلته بحث کول نه غواړم، بلکی په دی تحقیقی تاریخی لیکنه کی یوازی ددی موضوع وضاحت او صراحت ضروری بریښی چی د افغانانو د زورورتوب، جنگیالیتوب، سربښندنی او قهرمانی د ثبوت په غرض چی په دی جگړه کی یی له ځانه ښودلی دی او د تاریخی یی سارو حماسو ایجادوونکی شول او ددی تر څنگه یی د نړی د یوه غښتلی او عظیم قدرت او د هغه د عصری او پیاوړی ځواک سره د واقعیت په تاکید او تایید، هغه هم په حقیقت کی په تش لاس په څه شان سر شاری اتلولی وښودلی، تلپاتی حماسی یی هستی کړی او جهان ته یی وښودله چی افغانان په تش لاس کولای شی د زور او زیاتی ځواب په اسلامی عقیده، افغانی اراده او په پوره شهامت او شجاعت ورکړی او له هر غاصب څخه په تیره توره خپل حق واخلی.

ددی ادعا د ثبوت په مقصد به کافی وی چی د افغانی او انگلیسی ځواکونو د مقایسی له مخی ددغو ملی او تاریخی کارنامو جاج واخستلای شو.

د زیاترو تاریخی اثارو له مخی ددی جگړی په څلورو جبهو کی لاندنی محاذونه شامل وو چی دلته یی د دواړو خواوو د قوتونو اندول وړاندی کیږی

۱- د خیبر په محاذ کی:

الف - افغانی پوځ:

- پلی دوه غونډه (۲ کنډکه)، د سپرو یو کنډک، د توپچی یو کنډک او ۴۸ میله توپونه.

سپاهیان، ۶۹ میله توپونه، ۱۰۴ میله ماشیندار، - هوایی قوه څو بم غورځوونکی الوتکی، پیش قراول: یو کنډک.

په دی محاذ کی انگلیسی قوماندانان میجر جنرال (تورنجنرال) کلیمو، میجر جنرال فاولر بریگیډیر کورکر او بریگیډیر

ددی محاذ قوماندانان کرنیل سام براو میجر ریلی او د چترال مهتر شجاع الملک و

ب - افغانی قوه

د اسمار یوه مستقل غونډ، پیاده ۷ تولی، ۱۲ میله توپونه، یوه ډله ماشیندار.

، قومی لښکری

ددی قو ی قوماندان جنرال عبدالوکیل نورستانی او د اسمار د قطعی قوماندان

تنگی غارو نه تنها از شکست اهریمنان زبون انگلیسی نشانه هاي دارد بلکي بر هزیمت فاحش روسهاي متجاوز نیز شاهدي میدهد
عکاسي یوسف

قومی لښکری

ددی کوچنی پوځ قوماندان سپه سالار صالح محمد خان د جنگ وزیر، او پوځی یاور او درستیزوال یی محمد گل مومند و.

ب - انگلیسی پوځ:

د پلی یوه فرقه (۱۴ کنډکه)، د سپرو یو غونډ ۳ کنډکه او ۳ لواگانی، د عقبی احتیاط د پلی ۲ فرقی (۴۸ کنډکه) زیات شمیر ملیشایی، ساخلویی او محافظ

بالدوین وو.

۲- د چترال په محاذ کی:

الف - انگلیسی قوه:

۱۵ زره عسکر، ۳ انگلیسی پلټنی، دوه لوی توپونه، ۸ لویی ماشینگنی او نوری وسلی، ۰۰ د راجپوتیانو لښکر، ۰۰ د چترال د مهتر لښکر او ځینی نور اختل شوی قوتونه.

کرنیل خورشید خان و او د قومی لښکرو مشری د میرزمان خان په غاړه وه.

۳- د کندهار په محاذ کی:

الف - افغانی پوځ:

د پلی یو غونډ (۳ کنډکه)، د سواره او توپچی (۲ کنډکه)، د سپین بولدک په سرحدی تانه کی ۳ تولی (۳۰۰ تنه)، او د نورو تانو ۳۰۰ تنه

ددی محاذ قیادت د اعتماد الدوله او صدراعظم سردار عبدالقدوس په غاړه و.

ب - انگلیسی پوځ:

د پلی یوه فرقه (۱۴ کنډکه)، د هندی پلی پوځ ۳ کنډکه، انگلیسی سپاره یوه لوا، هندی سپاره، یوه لوا، د اوسپنی د لاري ساتونکی، سپاره ساتونکی ۲ تولی، پلی قوا ۳ کنډکه، استحکام ۲ تولی، هوایی قوه ۲ بم اچونکی الوتکی،

چی دا تولی قواوی په غښتلو توپخانو او د سفر بری په ذخیرو سمبالی وی د انگلیسی قواوو مشری په کویټه کی د انگلیسی پوځ قوماندان میجر جنرال «واپ شیر» په غاړه وه.

۴- د پکتیا په محاذ کی:

الف - افغانی پوځ:

پلی یو غونډ ۳ کنډکه، سواره یو کنډک، توپچی یو کنډک، بیا وروسته د سپرو په ۲ کنډکونو، ۲ تولیو، لس میله توپونو تقویه شو، قومی لښکر زر تنه، منظم عسکر ۳ زره تنه، ۹ توپونه

ددی محاذ عمومی قوماندان سپه سالار محمد نادرخان و چی سپه سالار شاه محمود خان او سپه سالار شاولی خان هم ورسره وو.

ب- انگلیسی پوځ:

پلی ۱۶ کنډکه، سواری، ۱۰ تولی، استحکام ۲ تولی، توپچی ۷ بطریی، زرهدار یو شمیر، هوای قوه یو شمیر ملیشایی قوه کنډکونه، چی بیا وروسته په اضافگی قوتونو تقویه شول.

ددی ستر پوځ قوماندان جنرال او ستاس و چی دده تر مانی وروسته معزول کړی شو.

۵- انگلیسی پوځ په تل کی:

پلی ۳ کنډکه، سواري یو کنډک، ۴ میله توپونه، بیا وروسته داسی تقویه شو، پلی ۴ غونډه، د پنجابی پلیو یو کنډک، د توپچی یوه بطریه،

۶- د کوهات په محاذ کی انگلیسی پوځ:

پلی ۲ غونډه، پنجابی سواره ۲ کنډکه، یوه ډله ماشیندار،

۷- د پاره چنار په محاذ کی انگلیسی پوځ:

پلی او سواره ۲ غونډه، ملیشایی عسکر یوه قطعه، یوه ډله توپخانه،

۸- د پیواړ په محاذ کی افغانی پوځ:

یوه کوچنی عسکری قطعه، پلی او سپاره ۲ تولی، دوه غرنی توپونه، ددی محاذ قومی لښکرا وروسته په درو ستونونو ویشل شوی و.

لومړی ستون:

پلی دوه نیم تولی، ۲۲۰ تنه، ۴ میله توپونه، څو میله ماشیندار،

په دوهم او دریم ستون کی:

منظم عسکر ۲ تولی، یو غرنی توپ، ماشیندار ۲ میله

څرنگ چی لیدل کیږی په نابرابره توگه د پوځی قواوو په مقایسی سره افغانانو د خپل شهامت او قهرمانی یوه بله نه هیریدونکی کارنامه د یوه ځلانده ثبوت په ډول جهان ته وړاندی کړه.

ماخذ:

افغانستان در مسیر تاریخ مولف میر غلام محمد غبار

د استقلال د جگړی څلورمه جبهه مولف عبدالخالق خالص

د حربی پوهنتون د مجلی د ۱۳۵۸ کال کلکسیون

او ځینی نور یادداشتونه.

بالاحصار کابل

حنیف بلخي

اي حصار آسمانبوس کبیر
افتخار کابل جنت نظیر
اي دژ مرصوص پنیان زمن
اي کنام شیر مردان وطن
از بر آن کنوهسار ارجمند
قد کشیدي پر غرور و سربلند
سوي گردون سالها داري عروج
اي کهن تاریخ اي ذات البروج
بام جوید مهتر راه کوي تو
شام شوید ماه تن در جوي تو
برج تو در سینه، چرخ فري
چون نگین اندر دل انگشتري
بر سر کوه آن چنان باشي جمبل
حوضه زرینه، بر پشت فیل
پاسبان درگه تو پر شکوه
چون عقاب اندر ستیغ هند کوه
چشم تو دیده غزّاي نام و ننگ
لشکر بیباك و مغرور فرنگ
سوختي افرنگ با کیدو فنش
بارگاه و بیرق مکنانتش
سخت پیچیده است اردوي تزار
دور گنج تو بسان گرزه مار
که بود انگلیس سویت دستباز
گاه روسي حمله ور همچون گراز
نعره بر کش از دل شور آفرین
تا بلرزاني زمان و همزمین
شعله ها کش از درون سینه ات
زنده کن آن سنت دیرینه ات

د خپلواکی شهید ته!

اي د وطن د ازادي شهیده
ته د وطن د هوسایی لپاره
خپلی ځوانی عشق اوآرمان ته تیر شوې
ستا د تاریخ په کارنامو مې قسم
ستا غلیمان په تا بودیږي ضرور

د ننگ ناموس د خپلواکی شهیده
د خپل ملت د نیکمرغی لپاره
د هوسونو ډک جهان نه تیر شوی
شهیده ستا په وینو سرو مې قسم
په تیښو سترگو به ورکیږی ضرور

ستا د سوري، سوري ټټر نه ځار شم
په سروگولو زخمی ځیگر نه ځار شم

د شعر او ادب ـ ـ نړۍ

چي کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

قیام

وحید مژده

ستمر آباد این یغما گران زیر و زبر باید
بجایش ساختن دنیاي دیگر باید
قفس جولانگه پرواز شاهین کي توان گردد
ترا اي تیز پر میدان جولان دیگر باید
به جنگ شب کمر بستیم پیمان با سحر بستیم
کفن با خون رنگین باید و این شب سحر باید
دگر با صلح نتوانند راه کاروان بندند
به طبل رزم مي کوبند یاران با خبر باید
بهاي اندکست تقدیم جان در راه آزادي
قدم در کوي جانان چون نهادي ترك سر باید
بقاي ما و وحدت را بهم پیوند پا بر جاست
طریق اختلاف هر کس رود خاکش بسر باید
تحزب همدلي ها را شکست و بهم پیوندش
تلاش و عزم پولادین و سعي پر ثمر باید
نه هر کس در جلو افتاد راه رهبري داند
امامت مرد تقوي باید و اهل بصر باید
زبان توحید میگوید و فعلش شرك مي جوید
به جنگ این چنین ایمان بر بستن کمر باید
به مسجد آل ابراهیم و بیرون قوم نمرودند
ترا اي پیرو آن بت شکن بر کف تبر باید
چي داري باك گر آماج تیر از شش جهت گردي
بلب تا هست تکبیري پذیر اي خطر باید

دلته مه راځه غلیمه دا جونگړه د افغان ده
د پرنگ او روس په وینو سره خپره د افغان ده
دا خرپوتي،توري تیزي دغیرت په چیغو سردي
ظالمانو پیژندلي خونه خره د افغان ده

زاهد



عکاس یوسف

منار استقلال سمبول حریت و آزادي افغانهاي طاغوت شکن

د میړنیو کور

حنیفه زاهد ساحل

دا کور د میړنو دی غلیمانو ته ځای نشته
تاتوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته
غلیمه غیرت راخله هم له روس هم له فرنگه
افغان له سره تیر دی خو هیڅ تیر ندی له ننگه
شرقیان می تیت پرک کړل او غربیانو ته ځای نشته
تاتوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته
دا کور د خپلواکی دی هره تیږه یی ستگر دی
چی پلور ته تیت وو د هغوی پری شوی ټټر دی
کارمل او شاشجاع غوندی میړانو ته ځای نشته
تاتوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته
دا کور د ننگیالو دی چی دښمن یی داړولی
میدان د توریالو دی هر باطل یی لړزولی
گل بن د سبین اسلام دی ملحدانو ته ځای نشته
تاتوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته
دا کور د بت شکن دی طاغوتیان ورته وارېږی
وطن د ابدالی دی خاینان ځنی لړزېږی
دی مینی د توحید کی مشرکانو ته ځای نشته
تاتوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته
چه ژبه د زاهد وی اسلامی هواد یه ستایی
یکبلاک ورته لړزیږی جهادی هواد یه ستایی
دی مینی د حریت کی غلامانو ته ځای نشته
تاتوبی د زمرو دی بزدلانو ته ځای نشته

وطن ته

نوشابه

وطنه ځو چی تا سمسور نکړمه
د بېل درد ولړه در مستان به نه یم
که دښمنانو ته دی وسپارمه
زه پښتنه لور د افغان به نه یم
چی سپیری دښتی ستا گلزاری نکړم
بیا نو ددی افغانستان به نه یم
ستا له ناسته نه چی لوگی نه کړم ځان
اصیل نبالگی ستا د بوستان به نه یم
چی د دښمن په وینو سره نکړم لاس
پښتنه لور د میرویس خان به نه یم
که دی په خاوره باندی سرو ور نکړم
واوره لمسی د ایمل خان به نه یم

صبح سپید آزادي

محمد ناصر نصیب

عزیران خاطر پیرو جوان مسرور مي بینم
سعادت را نشاط با حلاوت، درجلو باشد
به کوي عشقبازان طریق رمز آزادي
بود این روز استقلال ، با عهد شباب دهر
مزار هر شهیدي شمع ها ، قد میکشد بالا
ذواتي کاندرین میدان ز غیرت جان و سردادند
سپهر نیلگون تا هست پایا ، اصل و بنیادش
همانا دلبر مه پیکر زیباي استقلال
اگر دشمن کند سو، نظر بر سوي خاك ما

وطن را از نداي شاد زي مستور مي بینم
ز فرحت شاهد مقصود را ، مخمور مي بینم
بهر جانب فروزان مشعل کافور مي بینم
فضاي عالم هستي، سراج طور مي بینم
ضیاي روز روشن در شب دیجور مي بینم
به اهداي تحیت، جمله را مغفور مي بینم
بکشور این مبارك روز را مشکور مي بینم
وطن را از تجلاي رخش پر نور مي بینم
تنش صد پاره، فرقش مقطع ساطور مي بینم

